درجهان شهادت است سالی ساحیاتیم
تا بر مردم گرد بیشتر پیامبر ...

چهارصفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبر مسلسل (۱۱۷۳) سال نزدهم شماره (۷۰) دوشنبه (۱۸) سرطان ۱۳۷۵هش، (۲۲) صفرالمظفر ۱۴۱۷هـ.ق (۸)جولای ۱۹۹۶ م

الهی لارښوونې

یوسف علیه السلام وویل : دا دلته چي کوم خواړه تاسي ته درکول کیږي د هغو له راتګ نه مخکي به زه تاسي ته ددې خوبونو تعبیر وکړم . داعلم له هغوعلومونه دی چي زما رب ماته راکړی دی .

واقعیت دا دی چي ما دهغو خلکو تګلاره پریښې ده چي په الله باندی ایمان نه راوړي او له آخرت نه منکران دی .

(یوسف)

په کابل کی دځه نه ترلاسه کیدو په صورت کی جلال آباد دطالبانو راتلونکی هدف دی

دبادغیس اوفاریاب حینو قوماندانانو دمرستی داد ورکړی

دفاریاب دیوه مهم قوماندان یوشمیرافراد په هرات کی ځای په ځای شوی دی

درکوودماتولو لپاره طالبانو ته دخپل ټول زور دازمویلو مشوره ورکړه شوی ده

کویټه - دچنګابښ ۱۷ مه : یوې باوري منبع تیرماښام له کویټې دجمعي په ماښام په کندهارکې دطالبانو ته په ټیلفون دشهادت » تسه وویل چي په هغې کسي دګمنبو،تورومهمواشخاصو دخاصو مشرانو یوه مهمه غونډه وشوه چي دګړون ریوټونه هم ورکړل شوي دي . منبع وویل چي په دي غونډه کي په دي عزم ټینګاروشوچي باید دطالبانو لپاره درامنځ ته شوي رکود دماتولو لپاره په (٤)مخ

برادر «حکمتیار» صدراعظم حکومت اسلامی افغانستان خطاب به یک کنفرانس مطبوعاتی :

من مطمین هستم که بزودی ان شاءالله خبرهای خوشی را خواهیم شنید

خبرنگاران خارجی می توانند درافغانستان فعالیت کنند ولی باید متوجه باشند که در وضعیت حساس کنونی باتبلیغات دروغین مشکلاتی برای ما ایجاد نکنند

ما میخواهیم افغانها آزادی کامل داشته باشند هرکس ودرهرمحل حرف خود رابه صراحت وآزادی تمام بگوید

مابخاطری دراین مرحله مسوولیت ها را پذیرفتیم تا زمینه را برای حکومت منتخب مساعد بسازیم

برادر«حکمتیار» بعد از انجام مراسم تحلیف کابینه جدید خطاب به کنفرانس مطبوعاتي گفت : ما خواهان اعاده صلح دايي وپايدار بـه کشور خود هستيم ، وموضع ماآينست کـه بخاطر تحقق اين هدف حکومت مـورد تائيد همه جناحها تشکيل شود، سائراحزاب هـم درکابينه حکومت مؤقت اشتراك کنند، و همه دست بدست هم داده درجهت نجات کشور خود گام برداريم .

برادر حکمتيار درمورد تبليغات اجانب اظهارداشت که اين خبرها که گويا درمورد کابينه جديد مشکلاتي ايجاد شده کاملاً بي اساس است وبه هيچ صورت حقيقت ندارد .

مامخلصانه ،باهم دست برادري ووحدت داده ايم دشمنان ماهرگزبـه آرمان خود دست نخواهند يافت ديگر اختلاف رانخواهند شـد و مجالي براي تبليغات کاذبانه نخواهند داشت .

ماامید وارهستیم کـه در رابطه باافغانستان اگـر خبرهاي داده ميشود صادقانه باشد آداب و اخلاق ژورناليستي رامراعات کنند ، از اشاعه اخبار دروغين اجتناب کنند .

ص(٤)

ددولت د رئیس اوصدراعظم لخوا دچین ولسی جمهوریت ته دخواخوږی پیغام

دافغانستان داسلامي دولـت رئيس استاد برهان الدين «رباني » اودهيواد دصدراعظم وورور حکمتيـار لخوا دچين دولسي جمهوريـت دجمهور رئيس او صدراعظم په نامه په دغـه هيواد کي دسختو سيلابونو لـه امله پيکنګ تـه دخواخوږي اوتسليت پيغام مخابره شوي دي .

دچين دولسي جمهوريت پـه جنوبي اوختيځو سيموکي دسختو سيلابونو راوتل دبي شميره ځاني اومالي تلفاتو برسيره دمليونونو چيناييانو دمهاجرت سبب شوي دي .

په دي لړکي ددولـت رئيس استاد برهان الدين «رباني » او صدراعظم ورور (٤)مخ

ددولت رئیس استاد ربانی دنړیوال روغتیایی سازمان له رئیس سره وکتل

دافغانستان داسلامي دولـت رئيس محترم استاد برهان الدين «رباني » پرون په کابل کي ميشته دنړيوال روغتياي سازمان درئيس سره وکتل .

دکابل ځخه رارسيدلي ريپوټونه وايي چي ددولت رئيس دځپلوخبروپه ترڅ کي دافغانستان دخلکو لـپاره د نړيوال روغتيايي سازمان فعاليتونو څخه خوښي څرګنده کړه او هغه يې وستايل

پدي ليدنه کښي دنړيوال روغتيايي سازمان رئيس - محترم استاد رباني ته دادورکړ چي ډير ژر به د افغانستان لپاره ددي سازمان دفتر، کابل ته انتقال شي

جاپان وهند برای احراز پست آسیا درشورای امنیت بایکدیگر به رقابت برخاستند

نیویارک -

جاپان وهند غرض بدست آوردن چوکي آسيا درشوراي امنيت بايکديگر بـه رقابت پرداخته اند .

طبق گزارش منابع خبري جهان هردوکشور تلاش دارند تابراي مدت دوسال عضو شوراي امنيت شوند ودرهمين سلسله ص(٤)

استاد سیاف نوی اجرائیه شوری جوړوی

تر وروستیو انکشافاتو وروسته ځینی ناراضیان بیرته ورغلی دی او پاتی هم په ورتګ فکر کوی

پغمان - دچنګابښ ۱۷ مه : دافغانستان داسلامي اتحاد امير استاد سياف له ځو ورځوراهيسي دخپل تنظيم داجرائيه شوري، عالي شوري او ارکانو دشوري له غړيو سره په غونډو بوخت دی استاد سياف ته يوي نږدې منبع شهادت ته وويل چي پـه غونډوکي د اتحاد مخکيني سياست او د هغه نتيجه (٤)مخ

رئیسه موسسه عالی نسوان افغانستان :

اجراآت طالبان درامور زنان ، بااصول وموازین اسلامی مغایرت دارد

پشاور - ۱۷ سرطان :

خانم قدريه « يزدان پرست » رئيسه موسسه عالي نسوان افغانستان گفته است که زن دراسلام حق حضور درتمامي عرصه هارا دارد زيرا حصول علم به مردوزن واجب ميشود وتفاوتي درميان نمي ماند.

قدريه يزدان پرست در يك مصاحبه ايکه باشريه « فريادعاشورا » انجام داده ودرشماره اخير (شماره ۷۵) بـه نشر رسيده راجع بـه طرزالعمل طالبان در امورزنان ميگويد : طالبان ميخواهند يك تيوري کاملاً مردود و غيرعملي رادر مورد زنان پياده نمايند که باهيچ اصولي ص(٤)

برادر اعزامی مسوول رادیو تلویزیون پیام ازادی:

نیروهای رزمی دولت اسلامی دربرابر هرتجاوز آماده دفاع میباشند و از قوت زیادی برخوردارانند

خبرنگارماازمحترم اعزامي مسئول راديو تلويزيون پيام آزادي کـه ناظر جريانات اخيرکابل بـودتقاضا نموده تا درمحور چند پرسش معلوماتي ارائه فرمايند . متن اين گفتگو را در ذيل ملاحظه ميفرمائيد .

سوال :قرارمعلوم، مراسم سوگند کابينه حکومت مرقت افغانستان معطل شده بود، علل آن چيست .

جواب : باپيجاشدن مراسم تحليف ووزا ديروز ۱۶ سرطان اين پرسش حل شده است . تفصيل خبروجريان مراسم ازطريق امواج ص(٤)

طبق فیصله کمیسیون امنیتی شهرکابل :

همه شهریانی که میخواهند با خود اسلحه داشته باشند باید از کمیسیون امنیتی اجازه بگیرند

کابل - ۱۷ سرطان :

کميسيون امنيتي شهرکابل به منظور تأمين امن و نظم بيشتر درآن شهرتشکيل جلسه داد .

براساس گزارش خبرنگارشهادت ازشهرکابل اين کميسون فيصله کردازهمه شهريانيکه غرض تأمين امنيت شخصي خويش باخود سلاح حمل مينمايند تقاضا نمايند تاهرچه زودتر غرض اخذ کارت سلاح درخواست هاي ... باادلائل ... دارالانشا ، کميسيون ارائه دارند درضمن همه کسانيکه بدون اجازه نامه کميسيون امنيتي هرنوع اسلحه خفيف ياثقيل راباخود حمل مي کنند تحت تعقيب وبازپرسي ... قرارميگيرند

بعداز اجرای مراسم تحلیف صدراعظم واعضای کابینه :

اولین جلسه کابینه تحت ریاست برادرحکمتیار تدویر یافت

درجلسه کابینه نیازمندي های اولیه شهریان کابل وصرفه جوی دربودجه دولت تحت بحث قرار گرفت

کابل - ۱۷ سرطان :

بعدازتعيين برادر حکمتيار بحيث صدراعظم دولـت اسلامي افغانستان واداي مراسم تحليف صدراعظم وکابينه قبل ازظهر روزگذشته اولين جلسه کابينه حکومت اسلامي تحـت رياست برادر حکمتيار صدراعظم کشور تدوير يافت .

به گـزارش خبرنگار شهادت ازکابل، دفترمطبوعاتي صدارت عظمي خبر مي دهد، درجلسه ديروزي کابينه نخست صدراعظم کشور راجع به اوضاع کنوني ص(٤)

به مناسبت، تعیین برادرحکمتیاربحیث صدراعظم کشور :

پیام تبریکیه ازجانب رئیس جمهور ورهبر نهضت اسلامی سودان به کابل مخابره شد

کابل - ۱۷ سرطان :

عنواني برادرحکمتيار صدراعظم دولت اسلامي افغانستان پيـام هاي تبريکيه ازجانب جنرال عمرحسن البشير رئيس جمهور سودان وآقاي دکتورحسن عبدالله ترابي رئيس شوراي اسلامي آنکشور به کابل مواصلت ورزيده است .

دراين پيام ها آمده است مسرت داريم بهترين تبريکات خود، وملت سودان را به شماوهمه ملت مجاهد افغانستان تقديم بداريم و ازخداوند متعال موفقيت مزيدآن را درراه تاسيس نظام اسلامي درافغانستان واعمارمجدد آن خواهانيم .

مولنا قیام الدین کشاف خپل کار پیل کړ

کابل - دسرطان ۱۷ مه :

دافغانستان د اسلامي حکومت په نوي کابينه کـي د اطلاعاتو اوفرهنګ وزيرمحترم مولانا قيام الدين « کشاف » پرون خپل مربوط وزارت ته ولاړ په خپل کاريي پيل وکړ.

دشهادت خبريال دکابل ښارڅخه ريوټ راکوي داطلاعاتواوفرهنګ نوي وزير (٤)مخ

صدراعظم کشور برادرحکمتیار طی دیدار با هیئت رئیسه وزارت دفاع ملی :

به مردم کشور باید اطمینان دهیم که افغانستان خانه مشترك ماست وهمه باید در دفاع از آن سهم بگیریم

کابل - ۱۷ سرطان :

برادرحکمتيار صدراعظم حکومت اسلامي افغانستان روز گـذشته طي ملاقاتي باهيئت رهبري وزارت دفاع ملي افغانستان گفتند : هرچـه زودتر بايد تصميم گرفت تا شهريان کابل ازاين حالت دردناك نجات يابند . بـه اساس گزارش راديو کابل درآغازمحمديونس قانوني به ص(٤)

دجمهور رئیس «بوریس یلتسن » په نامه ددولت درئیس له خوا مسکو ته دمبارکی پیغام مخابره شو

کابل - دسرطان ۱۷ مه .

دافغانستان د اسلامي دولت درئيس محترم استاد برهان الدين « رباني » له خوا ، دروسيي دفدراسيون دجمهور په ... ولسمشر دریاستي انتخاباتو ک ... (٤)مخ

سازمان جماعت العلمای اسلام افغانستان طی اعلامیه گفته است :

رهبران ، علماء وفرد فرد ملت با ایثار وازخودگذری ثابت سازند که طرفداروحامی صلح درکشور میباشند

پشاور - ۱۷ سرطان :

۱- امير جماعت علماي اسلام افغانستان انعقاد معاهده تاريخي وسرنوشت سازميان حزب اسلامي وجمعيت اسلامي رابك اقدام نيك وخجسته درجهت حل وفصل دايي قضيه ، استقرارصلح رثبات وتشکيل حکومت نيرومند اسلام درافغانستان عزيزخوانده صميمانه ازآن استقبال وحمايت مي کند .

۲ - ورود برادر حکمتيار اميرحزب اسلامي به کابل و عهده دارشدن صدارت ص(٤)

شهادت
ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس: انجنیرحکمتیار
ناشر: ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر: محمد نذیر«بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تیلیفون: ۲۵۶۳۷۸۹
آدرس پستی: ۱۰۳۶ یونیورستی تاون -پشاور

داختلاف اوازي اودقیادتونو مسئولیت!

دنوي انتقالي حکومت دکابیني دلوړي مراسم ترمتوقع نیمي دوره ورځي وروسته ترسره شول. دي موضوع هغوټولوتبلیغاتي ادارو په تیره بي بي سي ته چي دحزب ارجمعیت داتحاد مخالف دي، یوه تبلیغاتي پلمه په لاس ورکړه.

بي بي سي په دي باره کي ډیره بدپرنسیپي وکړه، بې له دي چي یا په یوه منبع استناد وکړي، یایومشخص دلیل وښئي اویاله خپل تحلیل اونتیجه ګیري سره داسي وواني چي دځنډوجه شاید یا احتمالاً دکابیني په ترکیب باندي دحزب اوجمعیت اختلاف وي، په حیرانوونکي ګستاخۍ ئې وویل چي دمعینانو په سراختلاف رامنځ ته شوي دي اوهمدادکابیني دلوړي دمراسمودځنډیدو یواځینۍ علت دي.

ورمه شپه چي دکابیني ټاکل شویو غړیو سوګند پوره کړ، نوپه دي باره کي راولاړي شوي اوازي ختمي شوي، اودبي بي سي په پرسټیژباندي یولوي ګوزاروشو. بیواري بیا خلکوداولیدل چي هغه څومره خپلي عقدي،کیني، اوخپل خوبښ اوناخوښ په نورو پروګرامونوکي خورېږده په ریپوټونوکي هم ورګډوي.

په دي علاوه دلوړي په مراسموکي چي رئیس دولت اوصدراعظم کومي خبري کړي، هغه ډیري امیدپالونکي دي، نه یواځې، د بي بي سي خبري شوي اوازي په ډلګه ردوي بلکي په یوه نوي ښه ښئي چي سوي ،حاد خورا مضبوطه دي، له عادي تشویشونو اواندیښنونه لوړدي، دواړو مشرانو داوضاع وخامت عمیقاً درك کړي اودواړه قوي عزم لري چي خپله نوي تجربه بریالي کړي.

استاد «رباني» صاحب او «حکمتیار» صاحب چي دکابیني دتحلیف په غونډه کي په کوم صمیمیت ،اراده اوقوت داامیداو اطمینان ورکړ چي نوردوي په ټینګه یوبل ته دوروري لاسونه ورکړي، نودا کارئي په خورا مناسبه موقع وکړ، ځکه په تیرودوو ورځوکي ناوړه تبلیغاتو یولړ اندیښني راولاړي کړي وي. موږ په داسي حال کي چي ددوي داعمل خوراهوښیارانه عمل بولو، ددوو نورو خبرو وریادول هم لازمه ګڼو: یوخوداچي په ډیردقت سره متوجه وي چي دناوړه اوازو اوتبلیغاتولپاره په خپل لاس پلمه اوزمینه ورنکړي، ځکه ددوي داتحاد تاثیرلاتراوسه دعملي ساحي په نسبت، په رواني اوذهني برخه کي زیات دي، اوددغسي اوازو اوتبلیغاتو تکراردتاثیرترډیره حده کمزوري کولاي اوحتي له منځه وړلاي شي.

دوهمه مسئله داده چي دکابل وروستي انکشاف یوه ښه فضا جوړه کړې ده. دحکومت اودولت دقوتونو مورال لوړشوي، موضوع ئې قوي ده، دیوه پیغام، یوې اجنډا اوعملي اقدام دصلاحیت خاوندان شوي دي، او په ټولولحاظونوئي یو تهاجمي موقعیت اوحالت ترلاسه کړي دي. باید له دي فضا اوموقع نه دسولي په ګټه استفاده وکړي، ځانونه زیات په تشریفاتي چاروکي ګیرنه کړي، اودچوکیوویش اوداامتیازاتو تبادله خپله سیاسي مشغوله ونه ګرځوي. ترڅوچي دافغانستان په سطحه دبحران لپاره حل نه وي پیداشوي نه دکابل اقتدار، اقتداردي اونه دهیواد دهیڅ یوې برخي اوضاع ثبات اواستقرار موندلاي شي، هره لحظه هرچیري دیوې داسي پیښي اوحادثي احتمال شته چي حاکمي معادلې واړوي، روانه وضعه بدله کړي، موجودوموقعیتونوته تغییر ورکړي، دتهاجمي موضع وال، دفاعي ته یوځي او دانفعالي حالت خاوندان دتهاجم په مورچه کي کینوي.

په همدي وجه دحزب اوجمعیت مشرانو اومسئولینوته پکارده چي خپل وخت په غیرضروري چاروضایع نکړي اوله موجودي نسبي مناسبي فضانه دعملي پرمختګونو لپاره استفاده وکړي، په دي سره به د «بندي کوټي» وضع پای ته رسیږي، په ټول هیواد کي به عملي تحرك ایجادشي، عملاً به ملت دناامیدي اوبې اسرې ترب له حالت نه وتل شروع کړي، سوله به یوعملي مفهوم ترلاسه کړي، اوکه خداي (ج) غوښتل زموږ دهیواد دنجات پریشانه اوغریب «خوب» به عمل تعبیر ومومي.

که جدیت اوابتکار ونشي، اوضاع په اوسني شکل نه پاتې کیږي، ډیري عادي بې غوري کولاي شي لویو غیرپیشبیني شویو حادثوته لاراواره کړي. هسي هم زموږدهیواد اوضاع اوانکشافات دحسابونو اواټکلونو ډیري معادلي جم کړي دي.

له همدي امله موږ خپلو مشرانوته مشوره ورکوو چي دهیڅ ډول غفلت اوخوش فهمي ښکارنشي. دافغانستان اوضاع تردي ډیره خطرناکه اوپیچلې ده چي په عادي ګامونودي حل اوکنټرول شي.

زموږ دهیواد فاجعه اوتراژیدي تردي ډیره خوفناکه ده چي په شکلیاتواوتشریفاتوئي پیڅول ورټول شي، زموږ په هیواد کي دپردیومداخله تردي ډیره زوره ده چي په وروګامونودي دفع شي.

واقعاً وخت یوځل بیا زموږ دمشرانودتدبیر، ذهانت، تجربي اوزړه سوي سخت امتحان اخلي...

دافغانستان صدراعظم جناب حکمتیار صاحب ته سرلوڅي لیك

دثابت لخوا

بسم الله الرحمن الرحیم

مجاهد ورور جناب حکمتیار صاحب!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

له هرڅه نه ړومبي له الله (ج) نه هیله کوم چي تاسي ته توفیق دریه برخه کړي چي دافغانستان د صدراعظم په توګه دخلګوله توقع سره سم دهیواد روان بحران ختم کړي اوبالوسیله زموږ دولس اتلس کلن کړاوپای ته ورسوي.

جناب حکمتیارصاحب، اجازه غواړم چي دخپل لیك دمقدمي په توګه، دي حقیقت ته اشاره وکړم چي حکومتونه له بحرانونوسره دمقابلي لپاره ډیرو پراخه صلاحیتونو ته ضرورت لري. دنړي ډیروهیوادونو دغه حقیقت درك کړي او په خپلو اساسي قوانینو کښي یې داسي احکاموته ځاي ورکړي چي دهغوپه اساس دجګړي په وخت کي اضطراري حالت اعلانوي اوداساسي قانون ټول هغه احکام ملتوي کوي چي دحکومت تصمیم اوعمل دقیوداتوتابع کوي، څوحکومت وکړاي شي چي په پوره صلاحیت له جګړي نه دراولاړشوي بحران سره مقابله وکړي.

دهمدي اصل په پام کي نیولو سره غواړم پیشنهاد وکړم چي تاسي هم ... په ډیر سخت بحراني حالت کي دصدارت ډیردرانده پیټي ته اوږه ورکړه په خپل تصمیم اوعمل هیڅ ډول غیرضروري قیودات ونه مني، ځکه چي په تصمیم او اقدام ضروري قیودات ستاسي صلاحیتونه نیمګړي کوي، اوپه نیمګړو صلاحیتونو اصولاً نشي کولي چي دولس له توقع سره سم دهیواد دروان تباه کوونکي بحران دحل په لوري لازم اقدامات وکړي، تاسي دغه شان یوه تجربه کړي هم ده.

له دغي لنډي مقدمي نه وروسته په اوس راشر اصلي مطلب ته:

ځه هم ترډیره حده دجګړي نتیجه ده، مګرپه حقیقت کي یې زموږ دولس لپاره له جګړي نه دسترمصیبت حیثیت غوره کړي او په هیواد کي دداسي ژوراقتصادي بحران درامنځ ته کیدو سبب شوي دي چي له منفي اثراتونه یې دولس هیڅ فرد خوندي نه دي پاتي، اصلاً زموږ دهیواد مؤجود پولي تورم دومره خطرناك دي چي په تري کي یې په شلمې پیړۍ کي دالمان دوایمار دجمهوریت د۱۹۲۰ دلسیزې له انفلاسیون نه پرته بل مثال نه دي لیدل شوي.

په هیواد کي دپیسودحجم زیاتوالي هدي سبب شوي دي چي افغاني دبهرنیو اسعارو مخصوصاً ددالراو پاکستاني روپۍ په مقابل کي خپل ارزښت په حیرانوونکي سرعت له لاسه ورکړي. دهغي مقالي له مخي چي فقط تیره هفته دپاکستان دمسلم په ورځپاڼه کي خپره شوي افغاني په تیرو اوو کلونو کي ددالراوپاکستاني روپۍ په مقابل کي خپل ارزښت (۴۲۰۰۰) فیصده له لاسه ورکړي دي، صرف په تیرو پنځومیاشتوکي افغاني دپاکستاني روپۍ اودالرپه مقابل کي په سلوکي ۲۹۱ ارزانه شوي ده.

> لکه څنګه چي دمخه ورته اشاره وشوه مامور، عالي رتبه وي او که خورد رتبه - دمسلکي پوهي په درلودلو برسیره باید دتقوي او ایمان خاوند وي. په حقیقت کي لومړي باید دمامورد تقوي اوایمان په باره کي اطمینان حاصل شي، بیا وروسته ګیداي شي چي دهغه دمسلکي پوهي په باب پوښتنه وشي، که مامور دتقوي اوایمان خاوند نه وي، که په پوهه کي افلاطون او په زیرکۍ کي دکارت هم شي دولس په درد نه خوري. هغه به له خپلي پوهي نه دخپل ځان په ګټه استفاده کوي نه دملت په ګټه. له همدي امله زه پیشنهاد کوم چي که ظروف اوشرایط اجازه درکوي هغه څوك دخپلو همکارانو په دله کي مه پریږدي چي دجهاد په اوږدوکي یې یابې ورشه دمخه اویاوروسته له خپل تنظیمي یارسمي موقف نه دبوري افغاني په اندازه هم سوء استفاده کړي وي. له رسمي موقف نه سوء استفاده که کمه وي اوکه ډیره دملت په مقابل کي خیانت دي. حرك چي دملت په مقابل کي دخیانت مرتکب شوي وي، هغه دملت په نامه یاحساب دعامه چارو داجراء اهلیت اصولاً له لاسه ورکوي.

جناب حکمتیارصاحب، ترګنده خبره ده چي ستاسي حکومت باید خپله ډیره انرژي دجګړي دپای ته رسولو او په هیواد کي د امنیت دټینګولو په لارکي مصرف کړي. خوزه فکرنه کوم چي په دي لارکي به ستاسي کوششونه او اقدامات ډیرموثر تمام شي، ځکه چي ددولت دمخالفینو غیر انعطافي دریځ دجګړي دوام یقیني کوي. تاسي ته معلومه ده چي هغوي دټول دولتي قدرت له ترلاسه کولونه پرته په بل شي نه راضي کیږي اوپه دي ارتباط هیڅ ډول انعطاف نه. تن نږدي، هغوي داخبره تقریباً هره ورځ تکرار وي چي دخپلو مخالفینو ترواپرزولو پوري به جګړي ته دوام ورکوي، په دي اساس به تاسي ته ګرانه وي چي له هغوي سره له جګړي نه ځان وساتي.

له دوي سره له جګړي نه دځان ساتلو صرف یوه لاره شته، او هغه داده چي که ستاسي حکومت وکړي شي چي ددوي بهرني ملاتړکوونکي په دي قانع کړي چي په افغانستان کي دجګړي اورته له لمني وهلوته لاس واخلي. دغه احتمال هم کمزوري ښکاري.

بله ډیره ستره مسئله چي ستاسي حکومت ورسره مخامخ دي هغه انفلاسیون یاپولي تورم یاپه ساده ژبه په هیواد کي دپیسو د حجم زیاتوالي اودبیومتداوم لوړوالي دي. پولي تورم که

له بلي خوا زموږ دولس دړوند ضروري موادوپه سلوکي تقریباً ۹۸ له بهرنه واردیږي یعني په بهرنیوپیسو چي افغاني یې په مقابل کښي خپل ارزښت په سرعت له لاسه ورکوي، اخستل کیږي.

برسیره په دي دړوند ضروري مواد په دومره اندازه بازارته نه عرضه کیږي چي هغه تقاضا اشباع کړي چي دنوموړو موادو لپاره موجوده ده. دغه عامل دبهرنیو پیسوپه مقابل کي دافغانیو د ارزښت له کموالي سره لاس یو کوي او دړوند دضروري موادوبیي په سرسامووونکي ډول لوړوي. صرف په تیرو څوو کلونوکي داوړو اوغوړوبیه تقریباً څلور چنده لوړه شوي ده. ځیني داسي مواد شته چي بیه یې په تیرو دري کلونوکي له دي هم زیاته لوړه شوي، اما په معاشونو مخصوصاً دملکي مامورینو اواجیرانو په معاشونوکي کوم محسوس زیاتوالي نه دي راغلي، دمتقاعدومامورینو اوافسرانو معاش خوبالکل راکد پاتي دي، په برق آسا سرعت دبیولوړوالي او په معاشونوکي ډیرکم زیاتوالي زموږ داکثرو هیوادوالوته دخریدقوه دومره کمه کړي چي نشي کولي صرف وچه ډوډي په مړه ګیډه وخوري. یو رتبه اول مامور دمیاشتي تقریباً یولك افغاني معاش اوماکولات اخلي. په دغو پیسو کولي شي چي تقریباً څلورښت کیلواوړه واخلي. که نوموړي مامور په میرمني برسیره څلورماشومان هم ولري،

یعني دده کورني له شپږوکسانو جوړه وي؛ هرکس ته دمیاشتي تقریباً شپږنیم کیلواوړه رسیږي یاپه بل عبارت ددغه لومړي رتبه مامورټوله کورني کولي شي چي دورځي یوکیلو او دري سوه ګرامه اوړه مصرف کړي. په دي حساب ګورو چي یولومړي رتبه مامورنشي کولي چي له خپل معاش نه خپلي یوې متوسطي کورني ته صرف وچه ډوډۍ هم برابره کړي.

دغه لنډه محاسبه ښیئ چي پولي تورم زموږ ډیرو هیوادوالوته له خواړه ژوند نه دروند پیټي جوړ کړي. ډیري کورني په خپلو ماشومانوپوري پکوړي؛ نه یې شي ساتلي. ښایي په دي ارتباط موخه موده دمخه دشهادت په ورځپاڼي کي بعضي خپاره شوي راپوروته لوستي وي.

برسیره پردي روان بې ساري پولي تورم په هیواد کي دهرډول اقتصادي ودي مخه نیسي، ځکه چي له یوې خوا دسرمایې دتشکیل یاالجمع چي داقتصادي انکشاف یواساسي جزدي مانع ګرځي اوله بلي خوا دکارقیمت زیاتوي. همدا شان پولي تورم په ټولنه کي دپیسو داصلي ارزښت په باره کي بې اعتمادي پیداکوي اودتجارت درکود سبب کیږي.

که چیري پولي تورم په موجودسرعت اضافه کیدوته دوام ورکړي ښایي په افغانستان کي افغاني دتبادلي دوسیلي په توګه له چلندنه ولویږي اوخلك دبارتري معاملاتو په لور مخه وکړي. په دي صورت کي به ددولس اکثره برخه چي تولیدي وسایل نه لري اوڅه شي نشي تولیدولي چي په بارتري معاملاتو کي یې تبادله کړي، له مطلقي تباهي سره مخ شي.

اساساً همدا اوس اوس دهیواد په ځینو ځایونو کي لکه خوست اوکونړکي خلك دخپلواجناسو په مقابل کي دافغاني له منلونه ډډه کوي. دجلال آباد په ښارکي هم دافغاني سلګون او پنځوس ګون بانکنوټ نه چلیږي، ددي معني داده چي په افغاني باندي دتبادلي دوسیلي په توګه زموږ په خلکو کي دبې اعتمادي میلان مخ په راپیداکیدو دي؛ که ددغه میلان دپراخه کیدو مخه ونه نیول شي هغه حالت به رامنځ ته شي چي پاس مودرته اشاره وکړه.

زه فکرکوم چي دانفلاسیون له مصیبت سره دمبارزي لپاره پکارده چي لومړي په هیواد کي دانفلاسیون عوامل په نښه شي او بیا هغه عوامل له منځه یوړل شي. په عادي حالاتوکي په صنعتي هیوادونوکي پولي تورم یادمجموعي تقاضاله زیاتوالي نه پیداکیږي او یاهم دتولید دقیمت له اضافه کیدونه رامنځ ته کیږي (دپولي تورم ځیني نور واره عوامل هم شته چي دهغو له ذکرکولونه صرف نظرکوو). دمجموعي تقاضا دزیاتیدلو لپاره مختلف عوامل موجوددي چي له هغي جملي نه یې یو ددولت له خوا دقرضي دپانو خرڅول - او بیا دزیاتو پیسو چاپول اوبالوسیله ددولتي مصارفو زیاتیدل او بل یې ددولت له خوا دنامناسبو پولي انبساطي سیاستونو اختیاریدل دي. دتولیددقیمت اضافه کیدل دپولي تورم ددوهم عامل په توګه هغه وخت مطرح کیږي چي یادکارګرانو مزد لوړشي اویاهم دتولید دخاموموادو بیه په بعضي دلایلولوړه شي اوهغه مخارج زیات کړي

چي تولیدي ایجابوي. اما زموږ په هیواد کي ددومره خطرناك انفلاسیون اصلي علت داسي یو عامل دي چي دصنعتي هیوادونو اقتصاد پوهان دومره زیات ورسره آشنانه دي؛ دغه عامل ددولت ترڅنګ دغیردولتي مراجعو له خوا دافغانیو چاپول او په هیواد کښي یې په جریان کي اچول دي. دمرتقو بین المللي خبري منابعوپه قول اوس په افغانستان کي دننه په دولت برسیره ددوستم جنبش ملي، اوطالبان افغاني چاپوي؛ او له هیوادنه بهردایران اوپاکستان په سرحدي سیموکي افغاني چاپیږي اوزموږ هیوادته رالیږل کیږي. که صرف دولت پیسي چاپولي، دافغاني بیه په دومره سرسامووونکي سرعت نه کمیدله، اوتورم اوسني خطرناك حالت ته نه رسیده. اوس که دولت دخپلوجنګي فعالیتونو دتمویل لپاره دمثال په ډول په هفته کي دوه ملیارده افغاني چاپ کړي، ښایي څلوردومره نوري دطالبانو، جنبش اوبهرنیومنابعو له خوا چاپ شي اوپه هیواد کي په پولي جریان کي داخلي شي. په دي ترتیب سري، ویلي شي چي که یواځي ددولت له خوا دپیسو دچاپیدلو په صورت کي انفلاسیون دمیاشتي په سلوکي پنځه زیاتیده اوس اصولاً په سلوکي پنځه ویشت زیاتیږي. له دغه حالت نه راولاړ شوي انفلاسیون سره هم په هغو طریقو مبارزه نشي کیدي چي په صنعتي هیوادونوکي له انفلاسیون سره دمقابلي لپاره ورته کاراخستل کیږي. په نوموړو هیوادونوکي معمولاً د پولي یا مالي مناسبو اقداماتو په کولو سره پولي تورم کنټرولوي. دآزاد مارکیټ عملیات، دبانکونو دپښتواني زیاتوالي، دتجارتي بانکونو اوهمداشان دمرکزي بانك په پور ورکولو باندي محدودیتونه لګول هغه اقدامات دي چي پولي مقامات یې دپولي تورم دمهارکولو لپاره کوي. دمالي اقداماتو له لاري دانفلاسیون کنټرول ایجاب کوي چي حکومت خپله بودجه کمه کړي اویا مالیات اضافه کړي.

لکه څنګه چي لیدل کیږي په افغانستان کښي دپورتنیو ذکر شویو اقداماتوله جملي نه صرف دبودجي یاددولت دمصارفو کمول په عملي لحاظ ممکن دي چي هغه هم په روان انفلاسیون دحساب ور اغیزه نه کوي، ځکه چي زموږ په هیواد کي روان انفلاسیون لکه څنګه چي دمخه ورته اشاره وشوه صرف ددولت دزیاتومصارفو یا ددولت له خوا دزیاتو پیسو دچاپولونتیجه نه ده، بلکه لږ ترلږه څلور نور مراجع هم شته چي افغاني چاپوي او په هیواد کي یې پولي دوران کي داخلوي. که دولت پیسي لږچاپ کړي، که ډیر ي، دغه نوري مراجع به دخپل توان په اندازه زموږ لپاره پیسي چاپوي اوانفلاسیون په موجود سرعت لوړوي. له همدې امله پرځاي دي چي دي خبري ته اشاره وکړم چي ددولت دتشکیلاتو کمول اوبوشمیرمامورینو اضافه بست کول دپولي تورم یادبیو دزیاتیدلو مخه نشي نیولي، بلکه دغه کار به ځیني ناوړه اجتماعي عواقب ولري. راځئ چي دلته یوه محاسبه وکړو: فرض کوو چي تاسي ددولت دمخارجو دکمولو په هڅه ددولت بوشمیر اداري لغوکړي او له دي لاري مو زرتنه مامورین اضافه بست کړل. داسي به وګڼو چي هرمامور په اوسط ډول دمیاشتي اتیازره افغاني معاش اخلي، اوتاسي په هره میاشت کي دهغه معاش

دولت ته سپموي. په دي حساب ستاسي مجموعي سپمادمیاشتي اتیاملیونه افغاني کړي دمیاشتي دغه اتیاملیونه افغاني سپمایه روان بې ساري پولي تورم ښایي صرف اسمي اثرولري، خوواقعي اثریه یې بالکل محسوس نشي ،ځکه چي دغه اتیا ملیونه افغاني دهغو په خروارونوړګوتو یوه کوچني برخه هم نه تشکیلوي چي هره میاشت په هیواد کي په دوران کي لویږي اما ددغه کارځرګنده ناوړه اغیزه به داوي چي دهیواد په دغه بحراني حالت کي به زرکسان کارله لاسه ورکړي اودغه زرکسان به هم دبیکارانوپه اردو ورااضافه شي.

زما په عقیده له روان انفلاسیون سره به دمبارزي یوه ښه لاره داوي چي دولت وقتاً فوقتاً دپیسو ښه بدله کړي. ښایي غیردولتي مراجع چي افغاني چاپوي ونشي کړي چي ددولت له خوا دپیسو دبني بدلولوله پروګرام سره ځان عیارکړي. داصرف یو پیشنهاددي، کیدي شي چي تاسي له انفلاسیون سره دمبارزي یو کمیسیون جوړکړي، اودغه کمیسیون په دغه ارتباط په مختلفولاروغوروکړي اوله هغي جملي نه ډیري مؤثري لاري تاسي ته پیشنهاد کړي. غوښتنه - دستاسي جلالتماب جدي توجه دي حقیقت ته عطف کړم که دجعلي افغانیو دچاپولو مخه ونه نیول شي، انفلاسیون نه کنټرولیږي اوچي انفلاسیون کنټرول نشي بیشکه به ددولت دسقوط سبب شي.

جناب حکمتیارصاحب، بله موضوع

> زما په عقیده له روان انفلاسیون سره به دمبارزي یوه ښه لاره دادي چي دولت وقتاً فوقتاً دپیسو ښه بدله کړي. ښایي غیر دولتي مراجع چي افغاني چاپوي ونشي کړي چي ددولت له خوا دپیسو دبني بدلولوله پروګرام سره ځان عیارکړي. داصرف یو پیشنهاد دي، کیدي شي چي تاسي له انفلاسیون سره د مبارزي یو کمیسیون جوړ کړي، او دغه کمیسیون په دغه ارتباط په مختلفولاروغوروکړي او له هغي جملي نه دیري مؤثري لاري تاسي ته پیشنهاد کړي.

چي زه یې پیشنهاد کوم داده چي ستاسي په توجه کارهغه چاته وسپارل شي چي په مسلکي لحاظ یې داجرا اهلیت اوصلاحیت ولري، اوپه تقوي اوایمانداري کي یې هیڅ شك نه وي موجود.

که کارونه داسي اشخاصوته وسپارل شي چي دخپلومربوطوکارونو، په ساحه کي یې، مسلکي زده کړه نه وي کړي اویالږ ترلږه پکي کافي اوږده تجربه ونه لري، دغه عمل دیو بې کفایته اداري په رامنځ ته کیدو منتج کیږي. په اداري لحاظ بې کفایته اداره هغه وي چي دکارونودسمون لپاره ابتکارونشي کړي، او په کارکي ابتکاریې له مسلکي پوهي یاډیري عمیقي تجربي نه پرته ممکن نه دي.

اصلاً بې کفایته حکومت د اقتصادي ودي اوپرمختګ له دریو اساسي عناصرونه یوعنصردي؛ دوه نوري یې سرمایه اوتکنالوجي ده. که په یوهیواد کي داقتصادي انکشاف لپاره دوه وروستي شرطونه موجودهم وي، لیکن چاري دبې کفایته اداري په لاس کي وي، اقتصادي انکشاف نشي رامنځ ته کیدي، ځکه چي له سرمایي اوتکنالوجي نه په موثره توګه استفاده نشي کیدي که برعکس په یوهیواد کي داقتصادي انکشاف لپاره لازمه سرمایه اوتکنالوجي میسرنه وي اماچاري یوباکفایته حکومت ته په لاس ورشي، ښایي له ډیرو کموالي اوتخنیکي امکاناتونه په موثره توګه استفاده وکړي اوداقتصادي انکشاف زمینه مساعده کړي

دریم مخ

طالبان داطمینان اشاري ورکوي

خیبر

دخلیج دجنګ دشروع کیدو نه دمخه یوه شپه تلویزیون ته ناست وو خبرونه موکتل، یودوست هم راسره ناست ؤ(دا دوست مې اوس دطالبانو په تحریك کې دی) پرتلویزیون باندی دامریکا اوعراق خارجه وزیران وښودل شول ،دامریکا خارجه وزیر ډیرخفه اوموشوش ښکاریده اودعراق خارجه وزیر خندل ،نودی ملګری می راته وویل چی وګوره دایمان جلبه ،ماورته وویل چی دالله بنده دادواړه کافردی، هغه راته وویل دامریکاخارجه وزیر «جیمزبیکر» خو کافر دی مګر دعراق خارجه وزیر «طارق عزیز» خومسلمان دی، ماورته ومی ویل چی نوم یې دمسلمان دی ،اصلاً دواړه عیسوی مذهبه دی، دا خو یوه تیره شوی خبره ده نوی خبره دطالبانو دغه ،څنګ ده ،ګله چی داغور ځنګ پیداشونو هغه خلك چی داسلامی نظام څخه ویره لری درادیوګانواو اخباراتو څخه یې بهانوته شروع کړل چی طالبان دتمدن مخالف دی دښځو حقوق نه منی دمجوتو ښوان» مکتبونه یې بند کړی «دعکسونو مخالف دی دطالبانودمشرانو عکسونه نشته.

هسی خوطالبانو ډیروضاحتونه وکړل ویولړعملی اقدامات یې هم کړیدی. ګیدای شی چی دی تحریك کوم کارونه چی په اول کی تری شوی خوولي اوس دهغی کا رونو جبران کوی مګر دادوستان یاخو د طالب نوم سره حساسیت لری اویا دتجاهل عارفانه څخه کار اخلی هغه کارونه چی طالبانو کړی هغه ډیروښیانه دی چی کندهار ته راورسیدل میدان هوایی یې فعال کړ،کومی الوتکی چی خرابی وی هغه یې مرمت کړی اوس زموږ دديني مدرسوطالبان په هواکی په هلیکوپترو اوالوتکو کی اوبه ځکه په ۱۹۹۵/۹۶ ماول پیچارو ، لنډ کروزرونواوهاي لکس وانیستو کی ګرځی دمجوتونسوان» مکتبونه بند ول خودومره لوبه خبره نه ده، دوی خو دینی مدرسی هم بندی کړی دی ،دښځو دحقوقو په باره کی چی کومه وسیع القلبی طالبانوکړی ده دهغی څخه سترګی پټول نه دی پکار ،ګله چی امریکایی سناتوربراون افغانستان ته سفروکړ، طالبانو ورسره دملاقات څخه انکار وکړ خوچی میرمن رافل راغله خبره بل رنګه وه دطالبانو امیر المؤمنین خپل حضورته ومنله اوپه یولړ مسایلو یې ورسره خبری وکړی خودلته بیا اخبارونو ویسی ولیکل چی میرمن رافل ته یې څادر په سراچولی ودادی اوس دطالبانو دتحریك هئیت دملاشیرمحمد ستانیزی په مشری غرب ته تللی دی ،دخپل پروګرام مطابق بن- فرانکفورت -شتوتګارت -هامبورګ - نیویارك -واشنګټن - کالیفورنیا اوکیداشی په آخرکی لندن او روم ته لاړشی او دا تاثیرزایل کړی چه دوی د شرعی حجاب پابند دی اوهم په مغرب کی چی د دوی په حقه کوم تشویش موجود دی هغه رفع کړی.

دا چه په شریعت اخبارکی عکسونه ولی نه خپریږی په شریعت کی خوعکس ګناه ده البته په پاکستانی اخباراتوکی عکس جایزدی اوځه ګناه نه لری . د پاکستان د سرحدی ایالت د پیښور د ښارڅخه خپریدونکی اخبار مشرق د (۱۹/۳/۱۹۹۵) په ګڼه کی د ملامحمد عمر اخند عکس شپږ دی ښه روغ جوړصحیح سلامت او دواړه سترګی ئی جوړی دی د پاکستان د پنجاب د ایالات د لاهور د ښارڅخه خپریدونکی اخبار (پاکستان) (۲۴/۵/۱۹۹۶) د جمعی د ورځی په مجله کی د طالبانو د عالی شورای د غړی ملا بورجان مصاحبه اوعکس موجود دی چی د ذکرشوی اخبار یوښځی ژورنالستی (ګل فرزانه) سره ئی په کویټه کی مصاحبه کړی ده اوهم ئی ورته د عکس اخیستلو اجازه ورکړی وه نوهغه خلك چی د اسلامی نظام څخه په ویره کی دی هغوی دی دا تشویش نه کوی چه طالبان به ریښتیا هم اسلامی نظام نافذ کړی د طالبان دغو حلقوته وخت په وخت د ا طمینان اشاری ورکوی ،نوزه دوی خوښه چی د طالبانوپه اشارونی سرخلاصیږی او که نه.

###

از فراز منبر

اهتمام به نظام زکوة

دومین فریضه اینکه علاوه بر فرایض اساسی برحکومت اسلامی عاید گرده اینست که نظام زکوة را قایم کند .مراد ازقیام نظام زکوة اینست که زکوة بطورمالیه دولتی برهرقسم مواشی وهرنوع پیداواربه استثنای عوامل پیداوار، اشیای طرف ضرورت شخصی وسرمایه ایکه به نصاب نه رسیده باشد عایدگردد ، زکوة مطابق شرحیکه پیامبر علیه السلام مقررفموده اند هرسال در یك وقت معین ازهرشهری مسلمان صاحب نصاب لازماً حصول گردد وازطرف حکومت باید جمع آوری شوه وعلاوه برآن تمام مسلمانان ازهرنوع مالیه دیگری قرار داده شوند .

سرمایه ایکه ازطریق زکوة حاصل می گردد نه تنها بالای فقرا، مساکین ، مسافران ، قرضدا ران وکسانیکه زیرتاوان ونقصان مالی قرار گرفته اند مصرف شود بلکه مدد معاش تمام مامورین ومنسوبین حکومت اسلامی ، تمام مصارفیکه به نفع مسلمانان درمسایل سیاسی صورت می گیرد ، مصارف تبلیغ واشاعت دین ، نظم مساجد ، حج وعمره ، تعلیم وتدریس ، تحقیق واجتهاد ، جهاد و قتال و خدمت خلق ازین سرمایه ادا می گردد ، ازقیام نظام زکوة سرمایه ایکه برای پیشبرد نظم اجتماعی حکومت ضرورت دارد مهیا می گردد و حکومت بااستفاده ازآن بخوبی می تواند امور مملکت را به پیش ببرد.

(امربالمعروف ونهی عن المنکر)

فریضه، چهارمی و پنجمی حکومت اسلامی اینست که به معروف و نیکویی حکم کند وا زمنکر وزشتی بازدارد، چونکه این دو فریضه باهم مربوط اند للذا آن ها را در ذیل یك عنوان آورده ایم . دراصطلاح معروف عبارت ازهمان امور نیك است که از روی عقل ، فطرت و دین معروف باشند چنانچه تمام کارهاییکه اخلاق و پیش آمد افراد را بهترنماید و آنان را پابند احکام دین و شریعت نموده اعضای مفید وکار آمد جامعه بسازد معروف قلمداد می شود .تمام کارهاییکه نظام حکومت را بهترنماید ، باعث شگوفائی و رونق دین در نظام شود و حکمرانان را خدمتگاران مردم گرداند معروف می باشد .تمام کارهاییکه باعث تعمیر ، فلاح وبهبود جوامع بشری شود ، تمام ارزش های جوامع را در قالب اسلام بیندازد و جوامع را گهواره صلح و آرامش نماید ازمعروف حساب می شود . تمام کارهاییکه بحیث مجموعی باعث ترقی امت اسلامی شود ، مسایل مسلمانان را در سطح بین المللی درست کند و در راستای قیام وبقای خلافت علی منهاج النبوت مد و مددگار ثابت شد معروف قلمداد میشود ، ، تمام کارهاییکه برای انسانیت مفید ومثبت واقع شود و بشریت را ازبرکات وفیوضات دین خدا سیرآب کند معروف محسوب می شود . برحکومت اسلامی است که تمام وسایل وامکانات وماشینری خود را بکار بندد و در جهت ترقی و پرورنق شدن امور فوق ازآن استفاده نماید.

در اصطلاح ، منکر تمام کارهای منفی ئی است که ازنظرعقل ، فطرت و دین منکر باشد . چنانچه تمام آنچه باعث خرابی و پستی اخلاق افراد شود و آنها را دررابطه به دین وشریعت غافل و بی پروا گرداند و اعضای ناکاره وغیرمفید جامعه نماید منکر محسوب میشود .

تمام آنچه درنظام مملکت فساد و ابتری پیدا کند، نظام را باعث رسوائی و ذلت دین قرار دهد وحکمرانان را بطرف ظلم ، جبرو فساد سوق دهد ، منکر قلمداد می شود تمام کارهاییکه درجامعه باعث تخریب شود ، امن و آرامش جامعه را برهم زند و درآن باعث ترقی و پرورش ارزش های ضد اسلامی گردد منکر محسوب می شود . تمام کاریکه منحیث المجموع بحال امت مضرباشد ، درمیان امت باعث اختلاف و افتراق شود و به سطح بین المللی برای مسلمانان موانع، مشکلات وپرابلم ها خلق کند منکرقلمداد می شود ، وتمام کارهاییکه به بنی نوع انسان ضرر برساند و آنها را ازدین خدا بیگانه نماید منکر می باشد.حکومت اسلامی مسؤولیت دارد که باتمام قوت و نیرومندی در صدد قلع و قمع و استیصال همچو امور برآید و آن را یکسر ازمیان بر دارد .

نظام وسیستمی که ازطرف حکومت اسلامی برای انجام فریضه امربالمعروف ونهی عن المنکر وضع می گردد درین رابطه نیز قرآن بطوراساسی رهنمائی می کند چنانچه خداوند می فرماید، باید ازمیان شما گروهی مقررباشد که بطرف خیر دعوت دهد ، به معروف حکم کند و ازمنکرباز دارد وکسانیکه به این امر اهتمام ورزند همانا ایشان کامیاب وکامران اند .(آل عمران ۱۰٤)

قرآن حکیم طی این آیه کریمه دستور میدهد که حکومت اسلامی مانند نظام عسکری و پولیس باید بخاطر انجام این فریضه نیز اداره ئی دارای اختیارات وصلاحیت قانونی تشکیل دهد که مردم رابطرف اسلامی دعوت دهد ، به معروف و نیکوئی امر کند و ازمنکرو زشتی ها باز دارد .

واضح است که این اداره درچوکات صلاحیتیکه حکومت برایش میدهد به قوت و نیروی نظام و ارگان هایش به نفاذ تمام معروفات می پردازد بطور مثال این اداره وظیفه دارد که مردم را از کوتاهی و غفلت در باب نماز با جماعت باز دارد .

به همین ترتیب این اداره در چوکات صلاحیتیکه ازحکومت برایش تفویض می گردد به زور و نیرو به قلع قلمع تمام منکرات می پردازد . بطور مثال این اداره وظیفه دارد که هرجا محافل ومجالس فحشاء و بی حیائی را مشاهده کند به قوت ونیرو آن را پایان بخشد ومرتکبین آن را خود مورد تادیب قراردهد یا بوسیله محکمه به جزای اعمال شان برساند .

خلاصه قیام نظام صلوة، اهتمام به نظام زکوة، امر بالمعروف ونهی عن المنکر ازفرایض دینی یك حکومت اسلامی بشمار میروند . یعنی زمانیکه یك حکومت حیثیت وصبغه، حکومت اسلامی را بخود می گیرد قرآن حکیم ازآن مطالبه می کند که فرایض فوق را لازماً انجام دهد . اگرحکومتی از ادای فرایض فوق شانه خالی کند ونسبت به آن غفلت ورزد حکومت اسلامی گفته نمی شود .

برای اینکه یك حکومت صبغه، اسلامی بخود گیرد لازماً باید این فرایض را انجام دهد تا باشندگان آن بتوانند تمام زندگی خویش را درچوکات دین عیار نمایند و شایسته و اهل ادای فریضه شهادت علی الناس برسایرامت ها شوند ، فریضه ایکه خداوند این امت را برای آن مبعوث فرموده است آنجا که می فرماید :

شمابهترین امتی هستید که برای (شهادت و گواهی بر) مردم برپا شده اید ، به معروف امر می کنید ازمنکر بازمیدارید وحقیقتاً برخدا ایمان میدارید .

(آل عمران -۱۱۰)

تمام

دیهودیت نه می ولی اسلام ته رجوع وکړه ؟

